پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۵/۰۶

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۷۶ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**سر آسیا:** ـ۳۴، ـ ۶۹ : دا د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې په چاردهي کې د ‹تیبا› او ‹ریشخور› [1] تر منځ یو کلی دی. دا کلی په خپل شاوخوا کې ۱۰ کوچنی کلا ګاني او ۱۲۰ کورونه لری او استوګن وګړي ئـي تاجیکان دي.

دا کلا ګاني په لاندې ډول دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | قلعـهٔ شمس الدین خان | | بارکزي |
| ۲ | قلعـهٔ میرزا احمد خان | | بلوڅ |
| ۳ | قلعـهٔ غلام صادق | | بلوڅ |
| ۴ | قلعـهٔ خواجه خان | | تاجیک |
| ۵ | قلعـهٔ ملک تاج | | تاجیک |
| ۶ | قلعـهٔ نورګل | | تاجیک |
| ۷ | قلعـهٔ حاجي محمد | | تاجیک |
| ۸ | قلعـهٔ محمود | | |
| ۹ | قلعـهٔ میر آخور قاسم/قسیم | Kala -i -Mir Akhor Kasim | بارکزي |
| ۱۰ | قلعـهٔ خواجه احمد | | تاجیک |
| | | | (آی، بي. سي) |

[1] -Thiba and Rishkhor


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سرات**: [2]: ـ۳۵، ـ ۷۱: دا په کافرستان کې د کام د قبـیـلې یو کلی دی چې په «سرات گل» [3] کې واقع دی، د «سرات گل» د سیند اوبـهٔ د «باشگل» سیند ته له کیڼ لورې ورغورځي. دلته ۴۰ کورونه دي. له سرات څخه تر «پیتي گل» پورې او تر نورو ټولو گاونډیون «گلونو» پورې لارې تللي دي. (رابرتسن)د ژباړونکي یادونه: گل د نورستان د خلکو په ژبه کې د درې په معنی دی)

**سراز**: [4]: دا د سلیمان خیلو یوه ځانگه ده.

**سرازغومی**: وگورئ: بیرمل: [5]:

* **سربند**: ۲۹ ـ ۳۴، ۴۷ ـ ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د بهسودو په شمال لویدیځ کې د هلمند د سیند د یوې ځانگې په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د کونړ د سیند په اوږدو کې د «چپري/ څپری» [6] په پورې غاړه کې او په ننگر هار کې د ښیوې په شمال ختیځ کې په ۳۶ ـ ۳۴، ۴۴ ـ ۷۰ «ن» کې؛ د ننگرهار په ولایت کې د لویې ډکې د شمال لویدیځ په ۱ مایلی کې د کابل د سیند د غاړې په اوږدو کې په ۱۳ ـ ۳۴، ۲ ـ ۷۱ «ن» کې موقعیت لري.

**سربولاق: سربولک**: ۳۶ ـ ۳۴، ۲۴ ـ ۶۷ «الف»:دا د یک ولنگ په ولسوالي کې دوه کوچني کلي دي چې په «دره علي» [7] کې موقعیت لري؛ دې کلي کې د سیدانو او «نکه هزاره گانو» [8] ۴۰ کورونه دي. (اې. بي. سي)

***سربولاق**: ۵۳ ـ ۳۴، ۴۷ ـ ۶۸ «ن»: دا د پروان په ولایت کې د «کوهٔ یخ درې» [9] په لویدیځ کې، د «چوربند» [10] د یوې ځانگې په اوږدو کې یو کلی دی.

**سر دره**: ۵۴ ـ ۳۵ ؛ ۱ ـ ۶۶ «الف»: دا په هندوکش کې یو کوتل دی چې د سالنگ د درې سر کې: په لویدیځ کې د باجگاه د کوتل او په ختیځ کې د «ازرو» [11] د کوتل ترمنځ واقع دی. پر دې کوتل باندې یو سړک، د چاریکارو د شمال په نیـږدې ۲۷ مایلی کې، چې د خنجانو په درې منتهي کـیـږي تـیـریـږي. په کوتل باندې دختلو لاره چې له سویل لورې کـیـږي زښته ډیـره ستوغه ده او ان د یابوگانو د تگ لپاره ډیـره سخته لاره ده؛ له کوتله د کوزیدلو لاره چې په شمال خوا کې ده او د هر ډول ځارویو د تگ لپاره ناشوني ده، ځکه چې د کوزیدلو د لارې په اوږدو کې یو گرنگ واقع دی چې له هغهٔ څخه څوک باید په خاپوړو کوز سئ. (آی. بي. سي)

**سردار محمد امین خان**: دا د چاردهي په درې کې د «گاو خاني» او «ده مزنگ» ترمنځ یو کلا ده.

---

[2]-SARAT
[3]-Saratgul
[4]-SARAZ
[5]-SARAZGHUMI See BIRMAL
[6]-Chaperi
[7]-Dara Ali
[8]-Neka Hazaras
[9]-Koh -i- Yakhdara
[10]-Chorband
[11]-Azru


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سردِه:** [12] : دا د زرمت يوه علاقه داري ده. دا د ٫تکري٬ [13] د کوزې انتها او د ٫سپين سک٬ [14] د غرهٔ تر منځ يوه تنگه تړانگه ده. دلته ۷ يا ۸ کلا گانې دي چې د اندړو دي او تقريباً ۱۰۰۰ تنه وگړي لري. د دې ځای ځمکه د گز په بوټو پوښلې ده او يوه تنگه دره چې له ٫جلگو٬ [15] څخه راغلي له دغو ځمکو څخه په تقاطع تـېــرېــږي. د ٫مرسل٬ [16] په مقابل لور کې يو اسانه کوتل دی چې د ٫تکري٬ [17] د کوزې انتها له لارې په ٫شلگهر٬ [18] منتهي کــېــږي؛ کوز نور کوتلونه سته؛ يو رهنما کولای سي د تنگو درو له منځه د تـېــريدلو ځو لارې وښيي. ٫براد فوت٬

**سر دهي:** [19]: دا د غزني په سويل ختيځ کې په ٫سردِه٬ کې يوه کوچنی قبيـله ده. دوی تاجيکان دي. ٫الفنستن٬

**سرگل**: [20]: ــ ۳۵، ــ ۷۱: دا د کونړ په درې کې يو کوچنی کلی دی چې د منشعبې درې په خولې کې واقع دی او اوبـهٔ ئـې د ٫نارې٬[21] له کلا ۳ مايله پورته د نارې سيند ته ورغورځي. ٫رابرتسن٬

**سرفراز**: وگورئ: سر افسر: په دې نوم يو کلی په ۵۶ ــ ۳۲، ۲ ــ ۶۸ ٫ج٬کې موقعيت لري. ٫لودويگ آدمک٬

**سرگين** : [22]: دا دای کنديانو يوه ښانگه ده.

**سرگو:** [23]: دا د غزني د سويل ختيځ په ۸۰ مايلی کې، د سليمان په غرنی لړی کې له ٫کوتل سروندي٬ [24] څخه ۶۰ مايله ليرې يوه اوږده دره ده. دا دره له ٫قلعـهٔ لنگر٬ [25] څخه ۱۱ مايله ليرې واقع ده او د غرنی لړی په لويديځ کې يو خوړ ورباندې راغلی دی، چې وروسته بيا په آسانو کوږوالو يا انحناگانو پراخېــږي. د دې درې ارتوالی هيڅ ځای کې له ۳۰ يارډو لږ نـهٔ دی او اکثراً ۱۰۰ يارډه ارته وي. په درې باندې ختل ډېــر لږ محسوسېــږي ؛ په بله غاړه کې غرونه په آسانه د ختلو وړ دي؛ بيخ ئـې کله ناکله سخت او دروند ښکاري خو د دوه وو ساعتونو کار کولای سي دا لاره په عالي لارې بدله کړي. دې درې ته نېــږدې د توخي غلزيو خورې ورې جونگړې دي چې د ۲۰ يا ۳۰ کوچنيو کليو په ډله کې د کرنيزو ځمکو په منځ کې جوړې سوې دي. ٫براد فوټ٬

* **سرگذر**: ۱ ــ ۳۵، ۴۱ ــ ۶۸ ٫ن٬: دا د پروان په ولايت کې د غوربند په شمال کې د ٫وټه پور٬ [26] د سويل په ځو مايلی کې يو کلی دی.

---

12-SARDEH
13 -Takri
14-Spinsak
15-Jilgu
16-Mursal
17-Takri
18-Shilghar
19-SAR DEHI
20-SAREGUL
21-Nari fort
22-SARGIN
23 -SARGO
24 -Sarwandi
25-Kala -i-Langar
26 -Otapur


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**سرحوضه:** ۳ – ۳۳، ۲ – ۶۹: سرحوضه د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري دی چې ۷۲۵ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګرې پرګني دي د ۱۱۱۱۵ تر ۱۶۷۶۰ تـنو پورې اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له ‹ښاران› او‹اومنه› [27]، له شمال لوري له ‹متا خان› او ‹اورمه› [28]، له ختیځ لوري له ‹نکه› او ‹اورګون› [29] او له سویل لوري له ‹سروبي او ګومل› [30] سره کرښه لري. سرحوضه ۱۴ کلي لري چې ۵ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سلطاني | | سرحوضه | | مزک ‹مرزک› | | Mazak (Marzak) | |
| سور کوټ | Surkot | لیاکي ‹لایکي› | | Liyaki (Layaki) | | ګورالدین ‹کلال الدین› | |
| Goralddin (Kulalddin) | | کږکي | Kazhakai | شاه توری | Shah Turai, | میر درنګ ‹میدانک› | |
| Mir Darang (Maydanak), | | سندر خیل | Sundur Khel | تاب دوبي | Tab Dobi | مدو کټ | Madokats |
| جبار کلا | Jabar Qala | قطاري | | Qatari | | | |

**سرِ آب**: [31]: دا د بهسودو په سیمې کې یو منځغری دی. په دې نوم یو کلی په ۳۶ – ۳۳، ۲ – ۶۸ ‹الف› کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**سرِ آب**: ۳۶ – ۳۳، ۲ – ۶۸ ‹الف›: دا یو سیند دی ظاهراً د ‹محمد خواجه هزاره ګانو› له سیمې سرچینه اخلي.

* **سر- ی- آو پوش**: [32]: سرِ آب پوش – ژ: ۴۶ – ۳۴، ۲۱ – ۶۸ ‹ن›: دا د پروان په ولایت کې د ‹خوردک زا› [33] د شمال لویدیځ په څو مایلې کې د ‹قول خِش› [34] د یوې ښانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

**سرِ آسیا** : [35]: ۳۳ – ۳۵، ۳۴ – ۶۷ ‹الف›: دا د بامیانو په دره کې د تاجیکانو د ۲۰ کورونو یو کلی دی. (اې. بي. سي)

* **سرِ بید**: [36]: ۵۹ – ۳۳، ۴۷ – ۶۷ ‹ن›: دا د غزني د ولایت په شمال کې د یوهٔ سیند په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني په ولایت کې د ‹قاب جوی› [37] په شمال ختیځ کې د ‹شیلـهٔ تاب جوی› [38] په اوږدو کې په ۱۰ – ۳۳، ۱۳ – ۶۷ ‹ن› کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**سرِ بولاق**: [39]:– ۳۴، ـ ۶۸ : دا د بامیانو په ولسوالي کې یو لوی کلی دی چې له ‹آب دره› څخه د ‹جلمیش› تر کوتل پورې لاره ئـې له ښګه تـېـرېـږي. (پیکاک)

---

[27]-Sharan and Omna
[28]-Mota Khan and Orma
[29]-Neka and Urgun
[30]-Sarobi and Gomal
[31]-SAR- I -AB
[32]-SAR -I- AOPUSH
[33]-Khurdakza
[34]-Qol- i- Khesh
[35]-SAR -I -ASIA
[36]-SAR -I- BID
[37]-Qabjoi
[38]-Shila -i-Tabjoi
[39]-SAR -I -BULAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**سر ِ بولاق**: ـ۳۴، ـ ۶۷ : دا د بهسودو د سیمې په شمال لویدیځ کې یوه کوچنۍ علاقه ده.

**سر ِ بولاق ِ ترګي**: [40]: ـ۳۴، ـــ ۶۷ : دا په بهسودو کې یو مهم سیند دی چې ،،خواص،، ته ورغورځي او خواص په خپل وار هلمند ته ورغورځي.

**سر ِ بوم**: [41]: ۳۳ ـــ ۳۵، ۱۴ ـــ ۶۷ ،،ن،، دا د دایزنګي د سیمې یو کلی دی. دا کلی د ،،دای میر داد،، په اوږدو کې د ،،سفید خاک،، د شمال په شاوخوا ۸ مایلۍ کې موقعیت لري. ،،لودویګ آدمک،،

* **سر ِ چل**: وګورئ: کالو: [42]: په دې نامـهٔ یو کلی د بامیان په ولایت کې د ،،شش برجه،، د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې په ـــ۳۴، ـ ۳۹ کې موقعیت لري.

**سر ِ چشمه**: [43]: ۲۵ ـــ ۳۴، ۳۱ ـــ ۶۸: دا د کابل د سیند په بر سر کې یوه دره ده چې د اونۍ له کوتل څخه مخ پر ختیځ راغځېدلې ده؛ د اداري واحد د ویش پر بنسټ او د نورو موخو لپاره د میدان په ولسوالي ،،ولایت - ژ،، کې شامله ده. د ،،سرِ چشمه،، د درې او همدا شان د ،،درهٔ باغر،، [44] د درې او د نورو څنګلورو درو اوبـهٔ میدان ته راکوزېـږي؛ د ،،سرچشمې،، په درې کې تیموریان استوګن دي، دا د کابل ولایت هغه یوازینۍ برخه ده چې د تیموریانو د قبـیـلې خلک په کې موندل کــېـږي. ویل کــېـږي چې دوی ۲۰۰ کاله مخکې دلته استوګن سوي دي او شمــېـر ئـې ۶۰۰ کورنیو ته رسېــږي. د دوی مشر ،،په ۱۹۰۴ز کال کې،، دولت مـحـمد نومــېـدهٔ؛ دولت محمد پخوا د امیر شیر علي خان پلوی وو او کله چې عبدالرحمن خان د سلطنت پر تخت جلوس وکړ نو ،،دولت مـحـمد،، د یوې مودې لپاره کویټې ته کډه سو خو په پای کې ورته اجازه ورکړل سوه چې بیرته خپلې بومي مینې ته راستون سي. په ۱۹۰۴ز کال کې د ،،دولت مـحـمد،، یوازینۍ زوی د یوهٔ غلزي له پلوه د شخړې په ترخ کې ووژل سو او ،،دولت مـحـمد،، تر اوږدې مودې پورې په هیڅ ډول سره ونـهٔ سوای کولای چې کوم جبران یا استمالت تر لاسه کړي. له دې کبله شوني نـهٔ ښکاري چې دی دې له اوسني امیر، حبیب الله څخه راضي اوسي. نوموړی په هندوستاني ژبې خبرې کولای سي.

په دې درې کې د کلیو کورونه ټینګ او پاخـهٔ جوړ سوي دي چې ټول ګاونډ ته د سمسورتیا فضا وربخښي. د سیند په غاړو کې د سپیدار ونې کتار ولاړې دي او ټوله دره زړښته ډېــره کرل سوې ده. د ځمکه یو انچ هم داسې نـهٔ پرېښودل کــېـږي چې یو کال دې وکرل سي او بل کال دې ونـهٔ کرل سي بلکه هر کال کرل کــېـږي او پر ځای ئـې د غلاتو د کرلو علمي تناوب یا بدلون عملي کــېـږي، د دې لپاره چې ځمکه په هر فصل کې خپله وړتیا بیرته ترلاسه کړي نو د جوارو د دوه وو فصلونو تر منځ د یوهٔ فصل لپاره شفتل یا لوبیا یا نخود کرل کــېـږي. بنسټیز غلات غنم او وربشې دي او تر څنګ ئـې سرهٔ شفتل ،،شبدر سرخ،، شفتل او د آس نخود ډېــر کرل کــېـږي. دا نخود د غنمو له اوړو سره ګډ کــېـږي او بې وزلې خلک ئـې خوري.

---

[40]-SAR- I -BULAK -I -TARGAI
[41]-SAR-I-BUM
[42]-SAR- I -CHAL See KALU
[43] -SAR- I- CHASHMA
[44] -Dara-i-Baghar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په سرِ چشمه کي ده چي له اساسي دري سره بله دره له سویل لوري د «درهٔ دستګین» [45] په نوم دره او له شمال لوري د «درهٔ باغر» په نوم دره یو ځای کېږي، دواړه دري «د جولای» په میاشت کي پریمانه اوبهٔ لري. په دې ټکي کي دره ټوله ۳ مایله ارته ده. (ونلیس، دابس) په همدې نوم یو بل کلی د جلیز «جلریز- ژ» په سویل ختیځ کي په ۲۵ ـ ۳۴، ۳۱ ـ ۶۸ «ن» کي موقعیت لري.

**سرِ چشمه :** ۲۵ ـ ۳۴، ۳۱ ـ ۶۸ «ن»: لوړوالی : ۸۸۵۰ فیټه. «دا د «حوضِ ماهیا» [46] «ماهي ها ـ ژ» په نوم هم یادېږي، دا ځکه د کبانو د ډنډ په نوم یادېږي چي دلته د اوبو یو شمېر چیني چي پریمانه اوبهٔ لري د اوبو یو شمېر زیرمي ډکوي چي کبان په کي دي.»

دا د اونی د کوتل د ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کي په همدې نوم یو کلی دی چي یو سرای هم لری. دې کلي کي د تیموریانو تقریباً ۱۰۰ کورنی میشتي دي؛ د دغو خلکو مشر «په ۱۹۰۴ز کال کي» «دولت محمد» نومېدهٔ. د کلي استوګن وګړي ۱۵۰ غواګاني او ۲۰۰ وزې لري. د کلي د غنمو او وربشو د کلني کرنیز محصول اندازه په منځنی کچه نېږدې ۱۶۵۰ هندي مونډه ده. دلته به د یوهٔ کمپ لپاره د ځمکي موندنه ګرانه وي ځکه چي د دې ځای شاو خوا ټوله کرل سوې ده خو د پلي ځواک د یوهٔ غنډ لپاره چي په خور ورو ټولیو وویشل سي کیدای سي ځای وموندل سي. له دې ځایه اړتیا توکي په انډولیزه توګه په پریمانه کچه موندل کېږي او شپشتي یا شوتله دلته پریمانه ده. دلته د اوبو پریمانتیا سته ځکه چي له سیند څخه برابرېږي. «ونلیس» په دې نوم یو بل کلی په بهسودو کي «قلعهٔ هشت» [47] ته نېږدې په ۱۰ ـ ۳۴، ۴۹ ـ ۶۷ «ج» کي موقعیت لري.

**سرِ چشمه**: ـ۳۲، ـ ۶۷ : په دې نوم یو کلی د مقر او «اوبهٔ» [48] تر منځ واقع دی، همدې کلي ته نېږدې د «ترنک» [49] د سیند سرچینه ده؛ د ترنک سیند له همدې ځایه پیلېږی. «میسن»

**سرِ چشمه**: ـ۳۳، ـ ۶۸ : دا د «سرِ آب» په منځغري یا میان کوه کي د بهسودي هزاره ګانو یو کلی دی.

**سرِ دریا**: دا په «ناور» کي د یوهٔ ځای نوم دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني د شمال لویدیځ په نېږدې ۵۰ مایلی کي په ۴۷ ـ ۳۳، ۵۰ ـ ۶۷ «ج» کي موقعیت لري. «لودویګ آدمک»

**سرِ ګرم او**: [50]: سرِ ګرم آب: دا د بهسودو په سیمي کي موقعیت لري؛ دلته د هزاره ګانو د «جیرغای» [51] د ځانګي ۱۵۰ کورنی استوګني دي. «اې. بي. سي»

---

[45] -Dara -i-Dastgin

[46] - Hauz -i- Mahya : ددري ژبي په شفاهي لهجي کي ئـي همداسي تلفظ کوي او لیکنیزه بڼه یي ماهي ها ده یعنی د کبانو ډنډ- ژ

[47] -Qala -i- Hasht

[48]-Oba and Mukur

[49]-Tarnak river

[50]-SAR- I -GARMAO

[51] -Jirghai



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**سرِ جنګل**: [52]: ۳۳ – ۳۴، ۲۳ – ۶۶ ,ن,: دا یو سیند دی چې له «قاسم علي بیګ» [53] څخه سرچینه اخلي، په همدې سرچینې کې د اوبو یوه لویه چینه ده. سرِ جنګل یو له هغو دوه وو سیندونو څخه دی چې د هریرود د سر اوبهٔ جوړوي او بل سیند ئې د لال سیند دی. دا سیند له ,روغاني ګردن کوتل, [54] څخه د بهیدلو لویدیځ تنګ لوری لري او د ۷۰ مایلو له مزل وروسته او له دولت یار څخه تقریباً ۹ مایله کوز د لال له سیند سره یو ځای کـېـږي. د درې پورتـنـی برخه د ,ګرم آب, په نوم یادېــږي، «خاص سرِ جنګل» په ,خواجه جوش, [55] کې پیلېــږي. د ,خواجه جوش, او ,دولت یار, تر منځ دره نـهٔ ده پلټل سوې خو ویل سوي چې لاره تر ,دولت یار, پورې تللې ده. نور معلومات د ,دایزنګي, تر سرلیک لاندې راغلي دي. ,اې. بي. سي,

**سرجلګه روتي**: [56]:

**سرِ کجک**: وګورئ: کجک: په دې نوم یو کلی د ,مُشــک, [57] په شمال لویدیځ کې په ۲۹ – ۳۴، ۳۰ – ۶۷ ,ن, کې موقعیت لري.

**سرِ خوات**: وګورئ: خوات: ۴ – ۳۴، ۵۹ – ۶۷ ,ن,: اوسنی نقشې د ,شهرِ خوات, [58] نوم ښیي. ,لودویګ آدمک,

**سرِ قول**: [59]: ۳۹ – ۳۴، ۹ – ۶۷ ,ن,: دا یو منځغری دی چې د بابا به غرهٔ څخه پیل او فیروز بهار ته نېــږدې تر بندِ امیر پورې ځغلیدلی دی. له دې ځای څخه یوه لاره تر ,خاکِ چاګیر کوتل, [60] پورې او همداسې تر ,تګاو بَرګ, [61] او ,پنجاو, [62] پورې تللې ده. دوهمه لاره د ,سیاه بومک, [63] له لارې د ,ګلِ رباط, [64] تر کوتل پورې تللې ده. ,د کلیو او نورو معلوماتو د شرحې لپاره وګورئ: ,بامیان,. ولسوالي,

**سرِ کوټ**: [65]: دا د ,لکړئ د کوتل, [66] له لارې له ,بـیـلوت, [67] څخه تر جلال آباد پورې د سړک په اوږدو کې یو کلی دی چې د ,لکړئ د کوتل, په شمالي ډډې کې د ,سرخاب, د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې موقعیت لري. استوګن وګوي: منګل. ,آی. بي. سي,

---

52 -Sar-i- Jangal
53 -Kasim Ali Beg
54 -Roghani Gardan Kotal
55 -Khwaja Josh
56-SAR- I -JULGA I RAOTI
57-Mushak
58 -Shahr -i- Khawat
59 -SAR -I -KOL
60-Khaki-Chagir Kotal
61 -Tagao Barg
62-Panjao
63-Siah Bumak
64- Gul -i -Robat pass
65 -SARI KOT
66-Lakarai pass
67-Belut


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سر ِ نصر**: [68]: ۳۰ – ۳۴، ۱۳ – ۷۰: دا د لغمان په ولسوالي کې یو کلی دی چې د کابل د سیند په ښی غاړې کې د درونټې د کوتل د لویدیځ په ۱۰ مایلی کې موقعیت لري. دا کلی د یوهٔ ټیټ او ډبرین مهمیز په لمن کې چې د تور غرهٔ له غرنی لړۍ څخه راغځیدلی دی، موقعیت لري، له پوځي اړخه که مهمیز څوک په لاس کې ولري نو دا به یوه هیبتناکه مانعه جوړه سي ځکه د سیند له لارې تــېــریدل نا شوني دي او همدا شان سویل لور تاویدل هم سخت دي. په خپله کلا کوچنی او مخ خلاصي دی او کوم برج هم نـهٔ لري. ‹یانګ›

**سر ِ رو قول**: وګورئ: کوهٔ شاه طوس: [69]:

**سر ِ سنګ**: [70]: – ۳۴، – ۶۸: دا د میدان په دره کې یوه کلا ده چې له کابل څخه ۲۲ مایله لیرې د غزني د سړک په اوږدو کې واقع ده. دا کلا له ډبرو جوړه سوې ده او د هغې غونډۍ پر سر ودانه سوې چې په بشپړ ډول پر سړک باندې مسلطه ده. ‹تورنتون› په دې نوم نور کلي د «درهٔ مور» د یوې څانګې په اوږدو کې په ۳۱ – ۳۴، ۶ – ۶۷ «ن» کې؛ د ګرم آب د غاړې په اوږدو کې په ۴ – ۳۴، ۳۴ – ۶۷ کې؛ وراندې ختیځ لورته ۸ مایله لیرې په ۴ – ۳۴، ۳۷ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**سر ِ سنګ شانده**: وګورئ: کوهٔ شاه طوس

**سر ِ تل** : [71]: – ۳۴، – ۶۷: دا د دایزنګي په سیمې کې یوه کوچنی کلا ده.

* **سر ِ تاله** :۳۴ – ۳۴، ۳۸ – ۶۶ «ن»: دا یو کلی دی چې د هریرود د یوې څانګې په اوږدو کې د «شینه» د ختیځ په ۵ مایلی کې او د اسغرات په شمال کې موقعیت لري. په دې نوم نور کلي: د «قول ِ خش» د یوې څانګې په اوږدو کې په ۴۲ – ۳۴، ۲۹ – ۶۸ کې؛ او په غزني کې د «نو دِهٔ» په ختیځ کې او د «لومان» په شمال کې په ۱۵ – ۳۳، ۴۰ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري. ‹لودویګ آدمک›

**سر ِ تـنور**: وګورئ: کوهٔ شاه طوس

**سر ِ ترګان**: [72] : دا د جغتو هزاره په سیمې کې یو ځای دی.

**سر ِ اوچک**: [73]: وګورئ: کوهٔ شاه طوس

**سرکاني:** یا: سرکانیه: [74] :۴۷ – ۳۴، ۶ – ۷۱ : سرکاني د ننګرهار د ولایت یو کلی او یوه ولسوالي ده چې ۲۹۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـې چې بزګرې پرګنې دي د ۵۰۲۰ تر ۱۵۲۸۸ تــنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له اسعد آباد، څوکۍ او نرګ سره، له سویل لوري له خاص کونړ، له شمال لوري له

---

[68]-SAR- I -NASAR
[69]-SAR- I -ROQOL See KOH- I- SHAITUS
[70]-SAR -I -SANG
[71]-SAR -I -TAL
[72]-SAR -I- TARGAN
[73]-SAR -I -UCHAK
[74]- SAR KANAI Or SARKANAY : ددې نوم مخ ته ئـې په عربي الفباء «سرکنی» لیکلي دي چې تیروتنه ده. ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

«مروري» سره، له ختيځ لوري له پاکستان سره کربنه لري. سرکاڼي ۳۳ کلي لري چې ۱۹ کلي ئې له ۵۰۰ تـنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Do Nahr (Do Nahi) | | دو نهر «دو ناهي» | | د خاني بابا کلی | | Sarkani | سرکاڼي |
| قلاند | قلند | Pashad (Qushad) | | پشد «قشد» | | سنگر | |
| قلا پلي «ننگر کلا پيري» | | Bahrabad (Barbad) | | بهر آباد «برباد» | | Qaland | |
| ناوه | | Kotkai | کوتکي | Naulai | ناولي | Qala Pali (Nangar Kala Perai) | |
| درهٔ مروره | | Barogai (Bahrogai) | | بروگی «بهروگی» | | Ganjgal | گنج گال |
| Totnaw Kalai | توت ناو کلی | Tango | تنگو | Changai | چنگي | Dara- i- Marwarah | |
| ملا گوړه؟ | ملاگوره | Warghala | ورغله | چنار | | Gala | گاله |
| Mahay | ماهی | Dara -i- Shingali | | درهٔ شین گلي | | Mulla Gorah | |
| سليمان زي | | Sobagi | سوبه گی | Khadi Khel-i-Garbuz | | ښادي خيل گوربز | |
| Kandaharo Kalai | | کندهارو کلی | | Gargo Kalai | گرگو کلی | بادين زي | |
| قريـهٔ قلا | | Ghokhtankai | غوښ تنکی - ژ<br>غوختنکي | تنگی | | باغ کلی | |
| ساره لام «شاړه لام» | | Shakal | شاکال | Bandah | بانډه | Wacha Hurah | وچه هوره |
| | | | | | | Sarah Lam (Sharah Lam) | |
| (لودويگ آدمک) | | | | | | | |

دا ولسوالي په ۱۹۱۲ز کال کې په داسې شرحه سوې ده:
دا د کونړ د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې له چغه سراى ۸ مايله کوز يو لوى کلى دى. دلته د پلې منظم ځواک يوه ليوا او ۲۰۰ خاصه داران ځاى پر ځاى سوي دي. (آی. بي. سي)

**سرکاري قلعه:** ۳۹ – ۳۴، ۴۹ – ۶۷ : دا ځاى اوس د باميانو د ښارګوټي په نوم يادېـږي. د دې ساحې د اوسنى تازه شرحې لپاره وګورئ: باميان. (لودويګ آدمک. دا ځاى په ۱۹۱۲ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوى دى:

لوړوالى : ۸۳۵۰ فيټه. دا د باميانو په درې کې د يوهٔ ځاى نوم دى چې له کابل څخه ۲/۱ – ۹۸ مايله ليرې د مزار شريف د سړک په اوږدو کې واقع دى. سرکاري کلا د باميانو د والي استوګنځى دى چې د باميانو د مشهورو بتانو په مقابل لور کې واقع دى.

د سرکاري کلا بازار تقريباً ۳۰ يا ۴۰ هټۍ او دوه سرايونه لري چې يو سراى ئـې نوى او بل ئـې زوړ دى. نوى سراى د غرونو په ډېو کې جوړ سوى دى چې د غرهٔ ډډه د سراى يو ديوال جوړوي، دا سراى له زاړهٔ سراى څخه تقريباً ۶۰۰ يارده لوى دى. همدا شان يوه بله له ختو جوړه خامه کوچنۍ کلا سته چې له نوي سراى څخه ۱۰۰۰ يارډه ليرې د يوې ټيټې غونډۍ پر سر ولاړه ده. پوځي ګارنيزيون له دغو ځواکونو جوړ دى: د توپچي ځواک يوه بطريه (شپږ غرني، ۴ صحرايي توپونه او ۴ ماشين ګنې) د پلي ځواک ۲ قطعې او ۳۰۰ خاصه داران.

د مسافرينو پاسپورت يا راهداري په سرکاري قلعه کې ليدل کـېـږي. لويديځ لور ته يو مايل وړاندې د سيند په ښي غاړه کې د يوې غنډ د کمپ وهلو لپاره ځاى سته . په سرکاري قلعه کې اړتيا توکي تر لاسه کيداى سي. همدلته د نيم مايل په لويوالي يوه دره ده چې له يوې مخې کرل سوې ده؛ همدا شان د ميوو ډېـرې ونې، چنارونه او د ولې ونې هم سته.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د بامیانو په دري کې په حقیقت کې د ښار په نوم څه شی نـهٔ سته، دلته د کوچنیو استحکامي کلاگانو ډلې سته او په دغو کلا گانو کوچني کوچني کلي دي. د سرکاري کلا استوګن وګړي تاجیکان دي. ‹آی. بي.سي›

**سرما قول:** [75] : ـ ۳۴، ـ ۶۶: دا دیخ ولنګ د ولسوالي په سویل کې یو منځغري دی. د دې منځغري د اوبو د کوزیدلو مخه مخ پر ‹کنک› [76] ده.

د ‹سرما› لغت د تاتاري ژبې یو لغت دی چې د ‹سړو› په معنی او ‹قول› د دري او منځغري لپاره معمول لغت دی. نو له دې کبله ‹سرماقول› د ‹ساړهٔ منځغري› یا میان کوهٔ سرد – ژ› په معنی ده. دلته ۴ کلي دي او د وګړو ټول ټال شمـېـر ئـې چې هزاره ګان دي تقریباً ۵۰ کورنۍ دي. ‹میتلند›

**سرمرغه**: [77]:ـ ۳۲، ـ ۶۸: دا د غلزیو په سیمې کې یوه علاقه ده چې د قلات غلزايي په ختیځ کې په هغـهٔ ټکي کې واقع ده چې د غرونو یوې لړۍ ورڅخه جلا کړي ده. دا علاقه د ‹محـمد زيي توخي غلزیو› [78] د استوګنې سیمه ده. په دې نوم یو ځای لویدیځ لور د ‹شکین› [79] لړ سویل لور ته واقع دی. ‹براد فوټ›

**سرمست خانه**: ۵ – ۳۴، ۴۸ – ۶۹: دا د سپین غرهٔ د غرنی لړۍ یوه څوکه ده؛ ویل کـېـږي چې د لکړۍ د کوتل لړ لویدیځ خوا کې ده. ‹آی. بي. سي›

نور بیا

**سر محمد: دا د کابل – غزني...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[75]-SARMA KOLA
[76]-Kanak
[77]-SARMARGHA
[78]-Muhammadzai Tokhi Ghilzais
[79] -Shakin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ